PRESS INFORMATION
THE EUROPEAN UNION DELEGATION TO AFGHANISTAN
THE EUROPEAN UNION SPECIAL REPRESENTATIVE IN AFGHANISTAN

اروپايې ټولنه په حکومتداري او حساب ورکونې کې د مدني ټولنې له ونډې څخه ملاتړ کوي

کابل- د 2016 کال د جنوری 28

د مدني ټولنې سره د کار د تګ پروګرام د جوړونې نه دري میاشتې وروسته ، د جنوري په میاشت کې اروپايې ټولنه د حکومتداري او حساب ورکونې په برخه کې د مدني ټولنې د ونډې د پیاوړتیا په موخه پنځه نوې پروژې په لاره واچول. د حکومت د اصلاحاتي برنامو او د خدماتو د اغیزمنتوب باندې د مدني ټولنې د څارونکي ونډې پیاوړتیا د دغو پروژو موخه ګڼل کیږي.
دغو پروژو به د مدني ټولنې د غړیو د ظرفیت لوړوالي، د ټولنیز څارنې سیستم جوړول، د "ړونتیا ملاتړي"خوځول، په حکومتداری او حساب ورکونې کې د ځوانانو ورګډول او په پالیسی جوړنې او دادخواهئ کې د مدني ټولنې د ونډې څخه ملاتړ وکړي.

دغو پروژو به په 12 ولایتونو کې د 2,500,000 یورو لګښت سره د څلورو کلونو په موده کې پلئ شي. د دغو پروژو پوره معلومات په لاندې ډول دي:

- *د افغانستان د عامه څیړونو موسسه، د افغانستان د ړنو تاکنو بنسټ سره په ګډه به په کابل، بلخ، هرات، کندهار او ننګرهار کې د **48** میاشتو په موده کې کار وکړي. دغه پروژه به د فساد په اړه یو لړ څیړنې تر سره کړي او د فساد او دې ته اړوند موضوعاتو په اړه موضوعی خپرونې په لاره واچوي. دغه پروژه به همدارنګه "د فساد پر ضد عامه ټولنې" رامنځ ته کړي ترڅو د فساد د قربانیانو سره مرسته وکړي. همدارنګه دغه پروژه به د فساد سره د مبارزې په برخه کې د مدني ټولنې ظرفیتونه لوړ کړي.*

- *د افغانستان ړونتیا څار اداره، د Integrity Action سره په ګډه به د ړونتیا **40** د "ړونتیا ملاتړي" ته زدکړې ورکړي ترڅو هغوی ییا **320** تنو د "ړونتیا ملاتړي" ته زدکړې برابر کړي. دغه د "ړونتیا ملاتړي" به ټولنیز څارنیز فعالیتو په لاره واچوي او دولت سره به کار وکړي ترڅو د ړونتیا پیغامونه د ښونځیو په درسی نصاب کې شامل کړي. دغه فعالیتونه به **8** ولایتونه د **24** میاشتو په موده کې تر پوښښ لاندې راولي. دغه پروژه به **500** نورې پروژې څخه څارنه وکړي ترڅو **70** سلنې چې د څارنې په برخه کې لازم ګڼل کیږي، ترلاسه شي.*

- *د افغانستان د مدني ټولنې د مجتمعې بنسټ د "افغان اید" سره به په ګډه د **36** میاشتو په موده کې په غور او سمنګان ولایتونو کې کار وکړي. دغه پروژه به د مدني ټولنې **20** بنسټونه، **25** ټولنیز پراختیاي شوراګاني، **2** د ولایتي پراختیایی شوراګاني او د دولتي بنسټونه ظرفیت د ګډو برنامو او د خدماتو د وړاندې کولو څخه د نظارت په برخه کې لوړ کړي. دغه پروژه به همدارنګه د سیمه ایز مدني ټولنې بنسټونه، د ولسوالي شوراګاني د ځوانانو په ګډون د سیمې د خلکو ظرفیتونه لوړ کړي ترڅو د ښه حکومتداري ، ړونتیا او اصلاحاتو په غوښتنو کې په فعاله توګه ګډون وکړي. دغه پروژه همدارنګه دوه د دادخواهي شورګاني رامنځته کړي. دغه پروژه په دغو ولایتونو کې د خدماتو په وړاندې کولو او ړونتیا کې د **30** سلنې پرمختګ وړاندوینه کوي.*

- *د ماشومانو ځخه د ساتنې موسسه، د افغان ښځو د پياورتيا مرکز سره په ګده د ننګرهار او سرپل په ولايتونو کې د **36** مياشتو لپاره کار کوي. دغه پروژه به خلکو ته د اړتياو پر بنسټ د خدماتو د وړاندې کولو د اهميت په برخه کې د ولسوالیو **80** تنو استازو او د ولايتي **40** تنو استازو ظرفيت لوړ کړي. دغه پروژه همدارنګه د داوطلبانه څلور پروژې رامنځته کړي (د ځوانانو، د مدني تولنې بنسټونو، عقيدتي بنسټونو، سيمه ايز چارواکي او خصوصي سکتور په ګډون) ترڅو د خلکو د اړتياو پر بنسټ خلکو ته د خدماتو وړاندې کولو په موخه سيمه ايز چارواکو ځخه ملاتړ وکړي.*

- *د پاملرنې موسسه د افغانستان د ښځو د منابعيو مرکز سره په ګده په بلخ او پروان ولايتونو کې د **36** مياشتو لپاره کار کوي. دغه پروژه به **40** پراختيايي تولنيز شوراګاني ، د ښځو **40** ډلو، د ښونځيو د مديرت **30** کميټې او د **120** سيمه ايز رهبرانو ظرفيت لوړ کړي ترڅو د پراختيايي برنامو په رامنځته کولو، د خدماتو د وړاندې کولو ځخه ځارنې او د سيمه ايز چارواکو ځخه په حساب اخيستې کې فعاله ونده واخلي. دغه پروژه به يو داسې سيستم رامنځته کړي ترڅو سيمه ايز چارواکي د خدماتو د وړاندې کولو، د خلکو او په ځانګړي توګه د ښځو او ماشومانو د لومړيتوبو په برخه کې خلکو ته ځواب ورکونکي اوسي.*

د لا ډېر معلومات لپاره:

د اروپايي تولنې پلاوی
د رسنيو سلاکار
عبدالله يادګاري
تليفوني شمېره: 548 173 700 (0) 93+
برېښنالیک: abdullah.yadgare@eeas.europa.eu

پيترو ايينا
د اروپايي تولنې پلاوي
د اړيکي، رسنو مدير
تليفوني شمېره :657 909 729 (0) 93+
برېښنالیک : pietro.ienna@eeas.europa.eu